زیری جریده

د ۱۴۰۲ ال کال د زېري د ګڼو پر ځای

# د افغانستان د مهاجرت ادبیات

(د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

د څېړنپوه محمد آصف احمدزي په زیار

د افغانستان د مهاجرت ادبیات

د څېړنپوه محمد آصف احمدزي په زیار

# Afghanistan's Immigration Literature

(Collection of Scientific Research Papers)

Prepared by: Professor Mohammad Asif Ahmadzai

ISBN 978-9936-661-63-9

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز

# د افغانستان د مهاجرت ادبیات

## (د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

تدوین، سریزه او چاپ زیار:
**څېړنپوه محمد آصف احمدزی**

**د علمي کمیسیون غړي:**


څېړنپوه دکتور محمد علم اسحق‌زی

اکاډمیسین څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي

څېړنپوه شریف الله شریف

څېړنپوه دکتور عبدالقیوم مشواڼی

څېړنپوه خیرمحمد حیدري

څېړنوال دکتور سید نظیم سیدي

څېړنوال دکتور نورالحبیب نثار

څېړنوال محمد آصف احمدزی

څېړنوال محمد متین مونس

څېړنوال رحیم الله حریفال


## د کتاب ځانګړنې

---


**د کـتاب نوم:** د افغانستان د مهاجرت ادبیات (د علمي- څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

**تدوین، سریزه او چاپ زیار:** څېړنپوه محمدآصف احمدزی

**د چاپ کال:** ۱۴۰۳ هـ. ش / ۱۴۴۶هـ. ق کال

**د چاپ ځای:** ستاره همت - کابل

**خـپرنـدوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**ISBN:** ۹-۶۳-۶۶۱-۹۹۳۶-۹۷۸


---


**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**


---

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخ ګڼه**


د زېرې زېری ........................................................ ا

یو بل مثبت ګام........................................................ ج

سریزه ........................................................ ۱

**پیغامونه او ویناوې** ........................................................ ۶

د افغانستان د کډوال ادبیاتو په مناسبت د اسلامي امارت د محترم رئیس الوزراء پیغام...... ۷

د علومو اکاډمۍ د لوی رئیس شیخ الحدیث فرید الدین محمود د وینا متن ........................ ۹

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وزیر پیغام ........................ ۱۳

د اطلاعاتو او فرهنګ د سرپرست وزیر پیغام........................ ۱۵

د لوړو زده کړو وزارت مرستیال دکتور لطف الله خیرخواه وینا........................ ۱۷

د ژبو او ادبیاتو مرکز د رئیس څېړنوال سید نظیم سیدي د وینا متن ........................ ۲۰

**علمي- څېړنیزې مقالې** ........................ ۲۳

د مهاجرت ادبیاتو پېژندنه او د افغانستان د مهاجرت ادبیاتو شننه/ څېړنوال آصف احمدزی........ ۲٤

تأثیرپذیری زبانی ادبیات مهاجرت از مفاهیم کشورهای میزبان/ سرمحقق شریف الله شریف..... ۵۳

د کډوالۍ پر ادبیاتو رواني اغېزې/ پوهندوی دکتور سید اصغر هاشمي ........................ ٦٦

تحلیل گفتمان مهاجرت با تکیه بر شعر فانی/ محقق عبدالناصر مبشر ........................ ۱۰۵

د مهاجرت د شعر ارزونه/ څېړنوال رحیم الله حریفال........................ ۱۲۹

چشم اندازِ بر روایاتِ زیستی برخی مهاجرین از دیارِ هجرت/ معاون سرمحقق برهان الدین نظامی ......... ۱٤۲

د مهاجرت د مهال داستاني ادبیات/ پوهنمل ګل رحمن رحماني........................ ۱٦۳

دوره‌های شعری و برخی از سرشناس‌ترین شعرای مهاجر افغان در ایران/ سید خلیل کوهی .... ۱۷۹

افغان ادبي بهیر؛ د مهاجرت او جهاد په ادبیاتو کې د تحول مخکښ/ څېړنوال دکتور نثار........ ۲۰٦

په پښتونخوا کې د افغان مهاجرینو ادبي خپرونې (۱۳۵۷ – ۱۳۷۱هـ ل)/ اکاډمیسین هاشمي ........... ۲۳٦

بازتاب درد هجران وطن به روایتی از سه شاعر ترک‌تبار افغانستان/ محقق امان الله ضیایی ..... ۲۵۵

جلاوطنه پښتو شاعري/ څېړنپوه محمد نبي صلاحي ........................ ۲٦۸

د هجرت په خېمو او د جهاد په سنګرونو کې پښتو جهادي ادبیات/ څېړنپوه محمد عارف غروال ............ ۲۸۰

د مهاجرت پښتو ولسي ادبيات/ څېړنوال شهزاده توحيدمل ..................................... ۲۹۶
سروده‌ها و آفریده‌های ادبی شاعران ترکمن‌های افغانستان در دیار مهاجرت/ محقق نور ياغدي نور ........ ۳۱۴
د مهاجرت ادبياتو ويرنې/ څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل .................................. ۳۳۰
نگاه به ابراز نظر چند تن از شاعران اوزبیک تبار در مورد تراژیدی مهاجرت/ معاون سرمحقق مجید ندیم ... ۳۵۰
د مهاجرت په ادبياتو کې د کره‌کتنې څرنګوالی / څېړندوی فضل الرحمن عليزی ....... ۳۶۱
د هېواد پر ادبي وضعيت د مهاجرت د ادبياتو اغېزې/ څېړندوی حضرت آغا همدرد...... ۳۷۵
مهاجر اديبان او شاعران او د هغوی ادبي فعاليتونه/ څېړندوی مطيع الله ساحل ........ ۳۹۹
د مهاجرت دورې په نظمونو کې عاطفي درد/ څېړندوی ياسر پاچا............................. ۴۲۰
شناخت و اهمیت هجرت/ معاون سرمحقق عبدالناصر باهر.............................. ۴۳۷
علل و پیامدهای هجرت در افغانستان/ سرمحقق محمد کبیر مشفق ........................... ۴۵۳
**پرېکړه ليک او ارزونه** ............................................. ۴۶۳
پرېکړه‌ليک ............................................................... ۴۶۴
متن سخنرانی پوهاند شریفی معاون علمی پوهنتون کابل در مورد ارزیابی سیمینار... ۴۶۶

# د زېري زېرى

د زېري جريده چې د هېواد په مطبوعاتي بهير کې يو ځانګړى نوم او مقام لري په ۱۳۱٦ل کال د پښتو ټولنې له رامنځته کېدو سره سمه تأسيس شوې ده چې لومړۍ ګڼه يې د ياد کال د چنګاښ پر اتمه (۱۳۱٦/۴/۸ل) چاپ شوې ده. د زېري څو لسيز (۸۸ کلن) سفر ته په کتو ويلای شو چې زېري د هېواد په کچه نه يوازې نوي ليکوال هڅولي، بلکې روزلي يې هم دي چې ډېر يې زمونږ د ادبياتو پر اسمان لکه د ستورو ځلېدلي او لا هم ځليږي. همدا وجه ده چې زېري ته نن هم د يوې روزنيزې، څېړنيزې او علمي سرچينې په توګه کتل کېږي.

د پورته راوړل شويو خبرو معنا هېڅکله دا نه ده چې زېرى د خپل سفر په اوږدو کې له تودو سړو په امن پاتې دی؛ رښتيا دا دي چې زېرى څو څو وارې له لوړو، ژورو، ځنډ او خنډ سره مخامخ شوی دی، خو له دې هر څه سره يې بيا هم خپل سفر ته دوام ورکړی دی. کله چې موږ د زېري مخينه ګورو دا نتيجه تر لاسه کوو چې دا مهال د زېري دريېمه خپرنيزه دوره روانه ده چې لومړۍ دورې يې (۱۳۱٦-۱۳۲۰ل) او دويمې دورې يې (۱۳۳۱-۱۳٦۵ل) کلونه په خپله لمن کې رانغاړلي دي. د زېري دريېمه دوره په (۱۳۸۱ل) کال کې پيل شوې ده چې له نېکه‌مرغه تر دې دمه دوام لري.

په تېرو کلونو کې د خپرنيزو او ځينو نورو اداري معاذيرو له امله د زېري خپرنيزه لړۍ هم يو څه ټکنۍ شوه چې د (۱۴۰۱ل) کال د وروستۍ ګڼې په سرمقاله کې يې يادونه شوې ده. دا چې زېري د خپل تاريخ په اوږدو کې ځانګړې کالګڼې او فوق‌العاده د مقالو ټولګې چاپ کړې دي، له همدې امله دا غوره وګڼل شوه چې د تېر په څېر د زېري خپرنيزې لړۍ او خپل روايت ته د اتصال وربخښلو په موخه په (۱۴۰۱ل) کال کې د ژبو او ادبياتو مرکز له خوا د تر سره شوي سيمينار "د افغانستان د مهاجرت ادبيات" د مقالو ټولګه د زېري جريدې د (۱۴۰۲ل) کال (۱-۲۴ ګڼو) په عوض کې د

زېري د يوې فوق‌العاده کالګڼې په توګه چاپ شي. کله مو چې خپله دا غوښتنه د علومو اکاډمۍ له مشرتابه سره شريکه کړه، هغوی له خپلې همېشنۍ لورېينې سره سم د (۱۴۰۳/۱۱/۱۷ل) نېټې د (۳۷۷) شمېرې مکتوب پر بنسټ حکم راکړ چې د ياد سيمينار د مقالو ټولګه دې د زېري د (۱۴۰۲ل) کال د ګڼو په عوض کې د زېري د يوې فوق‌العاده کالګڼې په توګه چاپ شي چې دا دی ستاسو په لاسونو کې ده.

د ياد سيمينار د مقالو دا ټولګه چې د پښتو ژبې او ادبياتو انسټيټيوټ د آمر څېړنپوه محمد آصف احمدزي په زيار تدوين او ترتيب شوې ده، يو خورا ارزښتمن کار دی. په دې ټولګه کې زموږ د تېرو څلورو لسيزو ادبيات له يو خاصې زاويې څېړل شوي دي چې يو نوښت يې ګڼلای شو. په دې هيله چې زېری مو يو وار بيا خپل برم ته ور ستون کړی وي؛ يو وار بيا مو د نويو ليکوالو د هڅونې او د ځوانو ليکوالو د روزنې سرچينه ګرځولی وي او يو وار بيا مو په ټوله معنا د استادانو د علمي- څېړنيزو مقالو پر مټ د يوې ښوونيزې ادارې په توګه هېوادوالو ته ور پېژندلی وي، ستاسې په مخ کې يې ږدو، هيله ده چې د پخوا په څېر مو پرې ستاسې ادبي، علمي او څېړنيزه تنده ماته کړې وي او د دې لړۍ د اتصال يوه کړۍ شوې وي، مينه مو تانده اوسه.

د زېري جريدې مسؤول مدير

څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

# یو بل مثبت گام

د ادب پوهنځي محصل وم، وخت ناوخت به استادانو پر علمي او ادبي خپرونو بحث کاوه او د ځينو کورنيو دندو ترسره کولو لپاره به يې د مأخذ په توګه د کابل او آريانا مجلو يادونه کوله، خو يوه ورځ د ادبي جرايدو بحث هم رامنځته شو، په غالب ګومان اروابناد استاد حبيب الله جاج پښتونزوی د زېري جريدې يادونه وکړه. د خپل وخت علمي، ادبي او غوره خپرونه يې ياده کړه چې نه يوازې په کورني کچ، بلکې په بيروني کچ يې هم ګڼ مينه‌وال او لوستونکي لرل او لامل يې هم دا و چې د هر ذوق مطالب يې خپرول. استاد پرې خوندورې څرګندونې وکړې او موږ ډېرو ته يې زېری يو زېری کړ، ليدل او لوستل يې راته د ړندو سترګو بينايي شوه.

ښايسته موده وروسته د يوې علمي ـ څېړنيزې موضوع په پار د علومو اکاډمۍ کتابتون ته لاړم او هلته مې د خپلې ورکې ترځنګ د زېري جريدې کلکسيونونه هم وموندل، ګڼ مخونه مې په منډه منډه واړول را واړل او ډېر داسې څه مې په کې پيدا کړل چې په لويو کتابونو کې هم نه موندل کېدل، خو دا چې موخنه چاره مې بله وه، نو لومړيتوب مې هغې ته ورکړ، له دې شېبې وروسته مې ورسره د يارۍ مزي وغځول او وخت ناوخت به اکاډمۍ ته تللم، زړې ګڼې به مې يې هم لوستلې او هم به مې ترې يادښتونه اخيستل.

قسمت خپلې کانې را وکړې، له پوهنتونه مې د فراغت سند واخيست، روزۍ ګڼلو پر ګڼو سرکاري او شخصي ادارو وګرځولم، خو د ليک او لوست مينه مې ترينګلې نه شوه، لا به مضبوطېده، همدغې مينې د اکاډمۍ پر وره ننوېستم او يو وخت چې پوهېدم د اکاډمۍ منلو استادانو د زېري د معاونيت پر کرسۍ قابض کړی وم. له يوې خوا مې په زړه کې ګوړې ماتولې او ځان راته لوی سړی ښکارېده، خو له بله پلوه مې د کمترۍ احساس کاوه او لامل يې هم جوت و، ځکه دا يو داسې دنګ او هسک څلی و چې د

هېواد لويو ليکوالو او څېړونکو، لکه واخله استاد الفت، استاد رښتين، استاد خادم، استاد روهي، استاد هېوادمل او... يې پازه‌والي کړې وه، خو نن يې زما په څېر مبتدي ليکوال چې لا د څېړنې په کار کې خاپوړې کوي، د اهتمام چارې ترسره کوي. بس د الله په نصرت او د ملګرو په ډاډ مې اوږه ورکړه او چې کال تېرېده، کابو څلوېښت ګڼې مې چاپ کړې و او همدغه اخلاص د دې لامل شو، چې په دويم کال يې د مديريت چارې را وسپارل شوې، چې کابو درې کاله يې مدير پاتې شوم. تر وسې وسې مې هڅه کوله چې پر پخوانيو پلونو يې پل کېږدم، خو راته معلومه شوه چې زېرى يوازې يوه جريده نه وه، بلکې د ليکوالو لپاره يوه روزنيزه او د ليکوالۍ اکاډمي هم وه، د علم د خپراوي او د نوښت غوره مرجع هم وه، د کيسه ليکنې، ادبي منظوم او منثور ژانر زېږېدنې او ادبي نړۍ پرمخبيونې زېږنځاله هم وه، د نړۍ په هر ګوټ کې د پښتون نښلونې او بيدارونې جوت آدرس هم و او بالاخره د پښتونستان د آزادۍ جذبې را پارونې او د لوى افغانستان د جوړونې سرلارې خپرونه هم وه؛ نو دا او دې ته ورته مسايل او ورسره تړلې مينې دې ته اړ کړم چې په اړه يې نوره څېړنه هم وکړم.

له ښه‌مرغه د ماسترۍ چانس پيدا شو او د سرمحقق زلمي هېوادمل په مشوره او د سرمحقق نصرالله ناصر په لارښوونه مې د زېري جريدې د الفبايي فهرست په چمتو کولو پيل وکړ. د کار په اوږدو کې متوجه شوم چې د زېري له پيله بيا تر همدې نېټې (۱۳۹۰ ل کال) پورې د ټولې جريدې فهرست چمتو کول به زما له وسې پوره نه وي، ځکه د يو کال کار کابو له شلو مخونو واوښت او که دا اته لسيزې کار ټول په همدې بڼه مخکې لاړ شي، نو شونې ده چې له دوه زره مخونو هم واوړي چې نه به يې په ټاکلې موده کې بشپړ کړاى شم او نه به د ماسترۍ پروګرام د دومره ډېر کار د زغملو حوصله ولري، نو ځکه مې د سرمحقق هېوادمل په مشوره د څوارلسمې پېړۍ پنځمه او شپږمه لسيزه (۱۳۴۶- ۱۳۵۷ ل) کلونه وټاکل او دا ځکه چې په دغه وخت کې زېرى خپرنيز اوج ته رسېدلى و، هم په کې د ژبپوهنې بحثونه، هم په کې د ادبپوهنې، ادبي کره‌کتنې، ادب تاريخ او هم په کې د ولسي ادبياتو بحثونه په جديت او شدت سره روان ول.

د ادبي کره‌کتنې بحثونه (اقتراح) خو دومره جديت ته رسېدلي وو، چې آن لوی استادان په کې د خپگان پر پوله ولاړ وو او نور نو مسايل ورته د علمي حيثيت ترڅنګ شخصيتي حيثيت هم غوره کړی و، چې له همدې امله يې د بندېدلو نغارې ډنګول کېدلې، خو چلوونکو يې هڅه کوله چې موضوع شخصي‌ نه، بلکې علمي او څېړنيزه کړي او مينه‌وال له نويو خبرو او تيوريو خبر کاندي.

په همدغو کلونو کې متوجه شوم چې زېري څو کالنۍ او څو فوق‌العاده ګڼې يا د مقالو ټولګې هم چاپ کړې وې چې هم په خپل وخت کې او هم لا تر اوسه د ادب په دنيا کې د ځانګړې يادونې او مرجع په توګه ترې ګټنه کېږي. دغه کار زما په زړه کې يوه بله هيله وټوکوله او هغه دا چې زه هم بايد همداسې د مقالو ټولګې او ځانګړې يا کالنۍ چاپ کړم، خو له بده‌مرغه څه اداري ناغېړي وکړه او څه هم ملګرو د علمي مرستې ډاډ او لاس را نه کړ او دا ارمان همداسې ارمان پاتې شو. په دې ډارېدم چې زما د ژوند تر پايه همداسې ارمان او خيال پاتې نه شي، خو له ښه‌مرغه نن دغه ارمان څه نا څه پوره کېږي او د حقيقت جامه اغوندي.

څه نا څه مې ځکه وويل چې د اوس لپاره له مجبورۍ ورځې په ۱۴۰۱ لمريز کال کې د ژبو او ادبياتو په مرکز کې د داير شوي «مهاجرت ادبياتو» د سيمينار د مقالو ټولګه چاپوو چې ښايي ځينې مطالب يې د زېري په روحيه برابر نه وي، خو د اکاډمۍ له روحيې او پاليسۍ سره برابر دي او په ټولګه کې يې چاپوو؛ نو دغه چار ښه پال بولم او ښه يې ځکه بولم چې له يوې خوا مې ارمان پوره شو او له بله پلوه دغه شلېدلې لړۍ د اسلامي امارت په همکارۍ او لاسنيوي او د دې ټولګې په چاپ سره وصل شوه چې د زېري جريدې لپاره ښه زېری دی او که د زېري مسؤولين هر يو ښاغلی څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين او څېړندوی سيد پښتون پښتون يو بل ته د همکارۍ لاس ورکړي او د مرکز درانه استادان هم ورسره دا بار پورته کړي، نو موږ به په نږدې ګانده کې د دې او دې ته ورته ځانګړو او فوق‌العاده ګڼو او تر څنګ يې د ډېرو عالي چې د زېري جريدې له روحيې او موخو سره برابرې وي، مقالو ټولګو او آن ځانګړو کتابونو د چاپ شاهدان هم اوسو، نو تمه ده چې له هره پلوه يې لاسنيوی وشي.

په پای کې په دې هیله چې دا لړۍ له دغه پیل سره سم بېرته غیبه او هېره نـه شي، بلکې وزرې وکړي او د نړۍ له سیالو ادبیاتو سره مو سیال کړي.

په همدې هیله

ستاسې لوراند
څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي
د ژبو او ادبیاتو مرکز رئیس

# سریزه

د مهاجرت ادبیاتو یو پېژاند او ځانګړنه دا ده چې په هغو کې د مهاجرینو ژوند، دردونه او ټولنیزې تجربې په یوه یا بله بڼه انعکاس مومي، خو دا موضوع دومره ساده هم نه ده، ځکه په وروستیو پنځو لسیزو کې مهاجرتونو زموږ په هېواد کې نه یواځې ترخې او خوږې تجربې له ځان سره لرلې، بلکې د هېواد او خلکو د ټولنیز ژوند په ډېرو برخو کې یې کمي او کیفي بدلونونه راوستي دي؛ پر سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او رواني حالاتو سربېره په علمي، فرهنګي او ادبي ډګر کې هم د ستر تحول لامل شوی دی. د تېرې پېړۍ په وروستیو دوو لسیزو (۱۳۸۰- ۱۴۰۰هـ. ش) کې د مهاجرت ادبیات او په ټوله کې د مهاجرت بېلابېلو ابعادو هر اړخیز څېړل باید زموږ د علمي- څېړنیزو مرکزونو او تحصیلي بنسټونو د کړنلارو د سر ټکی ګرځېدلی وای، خو تر اوسه پورې په دې برخه کې له شدیدې اړتیا سره سره، لازم بحثونه او ضروري څېړنې نه دي شوي.

دا چې په تېر کې د مهاجرت ادبیاتو په اړه علمي منسجم بحثونه او اړینې څېړنې نه دي شوي او یا هم مقالې کمې لیکل شوې دي، بېلابېل عوامل لري چې زه یې دلته ځینو هغو ته په لنډیز سره اشارې کوم:

کله چې زموږ په هېواد کې پر ۱۳۷۱هـ. ش کال جهادي مسیر په خپل مقابل لوري غلبه پیدا کړه او کابل یې ونیو، نو ورسره سم په کابل کې داخلي جګړې پیل شوې چې له امله یې د هېواد د نورو بنسټونو په څېر فرهنګي اړخ، نه یواځې دا چې وده ونه کړه، بلکې مخ پر ځوړ یې حرکت وکړ او ورسره علمي او څېړنیزې چارې له رکود سره مخامخ شوې. سره له دې چې ځینې مهاجرې کورنۍ هېواد ته راستنې شوې، خو ورسره جوخت د کورنیو جګړو له امله زموږ ډېر نور هېوادوال او کورنۍ له هېواده او په تېره بیا له کابل څخه وتلو ته مجبوره شوې او د کډوالۍ لارې یې ونیوې.

له تنظیمي جګړو او د مجاهدینو حکومت تر سقوط وروسته چې کله په

۱۳۷۵هـ.ش کال کې اسلامي امارت د لومړي ځل لپاره واکمن شو، نو دا چې هېواد لـه بېلابېلو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ و، نو ډېر پام د هېواد د امنيت ټينګښت ته و، چې له امله يې فرهنګي او علمي چارو ته پام کم و. سره لـه دې چـې لـه ۱۳۷۱- ۱۳۸۰هــ.ش پورې پر هېواد واکمن اړخ زياتره جهادي او د مهاجرت لوری و او تمه ترې دا وه چـې د مهاجرت ادبياتو ته به په مناسبه توګه پاملرنه کوي، خو دربغه چې داسې ونه شول.

په ۱۳۸۰هـ. ش کال کې چې د بن تړون له مخې د بهرنيو ځواکونو په سيوري کـې په هېواد کې جمهوري نظـام رامنځتـه شـو او ظـاهراً د هېـواد پـه سياسي، اقتصـادي او ټولنيزو حالاتو کې د بدلون او سمون هڅې پيل او هم ورسره د ډيموکراسۍ او مطبوعاتو او بيان آزادۍ په پلمـه پـه فرهنګـي او علمـي چـارو کـې خوځښـت راغـی، متأسـفانه پـه همدې دوره کې د حاکم ذهنيت له امله جهادي او په ټوله کې د مهاجرت ادبياتو په اړه بحثونو کولو او خپرونو ته دلچسپي کمه وه، نو له امله يې دغـه موضـوع، نـه د هېـواد پـه لوړو علمي- څېړنيزو بنسټونو او نه هم په تحصيلي ادارو کې د پـام وړ وګرځېـده؛ يـواځې د جمهوريت په وروستيو کې د ځينو علمي- فرهنګي شخصيتونو په نوښـت د افغانسـتان په علومو اکاډمۍ کې د مهاجرت ادبياتو تـه پـام وشـو، دا موضـوع يـې پـه خپلـو علمـي- څېړنيزو تګلارو کې ورځای او لوړپوړو چارواکو ته يې د يـوه علمـي- څېړنيـز سـيمينار پـه بڼه وړانديز کړه، خو د نظام تر نسکورېدو پورې پـرې اجـراآت ونـه شـول. لـه نېکه‌مرغـه د اسلامي امارت تر دويم ځلي راتګ وروسته، دغه وړانديز د مشرتابه له خوا ومنـل شـو او د علومو اکاډمي له خوا «د افغانستان د مهاجرت ادبيات» په نوم سيمينار جـوړ شـو او هـم يې په خپل ستراتيژيک پلان کې د دغـه ډول ادبيـاتو څېړل شـامل کـړي دي چـې يـوه غوره او ځرګنده بېلګه يې په دې برخه کې «په پښتونخوا کې د مهاجرت د پښـتو ادبيـاتو د ايجاد، ودې او پرمختيا څېړنـه (۱۳۵۷- ۱۴۰۰ل)» پـه نـوم علمـي- څېړنيـزه پـروژه ده چې اوسمهال تر کار لاندې ده.

په کابل پوهنتون کـې د ۱۴۰۲هــ. ش کـال د دکتـورا د دربيمـې دورې پـه وړانـديز شويو ډيزرټېشنونو کې، يو هم د مهاجرت د ادبياتو څېړنه شامل دي.

دغه راز د اسلامي امارت د فرهنګي پاليسۍ په اساس د اطلاعاتو او فرهنـګ وزارت پـه

اډانــه کــې «د جهــاد د ارزښــتونو ســاتنې» پــه نــوم ریاســت ایجــاد شــوی او پــه ۱۴۰۱/۷/۱۰هـ.ش نېټه یې کار پیـل کـړی دی، چـې موخـه یـې د افغانسـتان د خلکـو د جهادي ارزښتونو په عملي ډول ساتنه او په سـاتنې سره یـې د افغانـانو د جهـاد ارزښـتونه، قرباني او د هغوی بریالیتوبونه راتلونکو نسلونو ته په میراث پاتې کېدل ښودل شوي دي.

په هر حال، د افغانستان د مهاجرت ادبیات د افغانانو د پرله‌پسې مهـاجرتونو د څپـو په رامنځته کېدو سره د هېواد د تېرو څلورو- پنځو لسیزو د ادبي مطالعاتو پـه حـوزه کـې له ډېرو مهمو بحثونو څخه دي. سره له دې چې په نورو ټولنو او هېوادونو کې هم په عام ډول د مهاجرت ادبیاتو په اړه بحثونه شوي او کېږي، خو زموږ پـه هېـواد کـې پـه دې اړه بحث او څېړنه له یوې خوا د ادبي، علمي- څېړنیزې برخې او له بلې خـوا زمـوږ د تـاریخ، سیاست، فرهنګ او د خلکو د ټول ژوند جدي اړتیا ده، ترڅو په دغـې تـاریخي دوره کـې د دغې خطې د خلکو له تېر حال څخه غوره او کره پېژندګلوي پیدا کړای شو، نو ځکه د هغو څېړنې، سپړنې او څېړونې ته هر اړخیزه پاملرنه په کار ده.

مهاجرت په ټوله کې په دوه ډوله دی؛ پـه خپلـه خوښـه او علاقمنـدۍ خپلـه مېنـه او سیمه پرېښودل دي او بل د مجبورۍ، ناچارۍ، تپلی او تحمـیلي مهـاجرت دی. زمـوږ د هېواد د مهاجرت ډول له استثناءاتو پرته له لومړۍ نوعې سره ډېر تړاو لري او طبیعي ده چې په همدغه کیفیت مهاجرت د هر مهـاجر او پـه تېـره بیـا د هـر فرهنګپـال، لیکـوال، شاعر او لوستي شخص په درون، داخلي کیفیاتو او روان ژور اغېز لري.

د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي رهـبري هـر کـال د علمـي- څېړنیـزو سـیمینارونو د جوړولو لپاره له اړوندو برخو څخه داسې نـوي او مـبرم مسایل غـواړي چـې پـه اړه یـې د علمي- تحقیقي سیمینار جوړولو غوښتنه کېږي، نو پـه همـدې لـړ کـې د ژبـو او ادبیـاتو مرکز د نورو موضوعاتو ترڅنګ اړینه وبلله چې د هېواد د مهاجرت ادبیات د سیمینار پـه کچه مطرح او وڅېړل شي. هماغه و چې د ادبیاتو د دغه ډول د ښې پېژندنې او څېړنـې لپـاره د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي د علمـي شـورا د ۱۴۴۳/۱۱/۲۲هـ‍. ق= ۱۴۰۱/۳/۳۱هـ‍. ش نېټـې پـه غونـډه کـې د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز او د پښـتو څېړنـو بین‌المللي مرکز ته دنده وسپارل شـوه چـې پـه دې اړه د علمـي- څېړنیـز سـیمینار تابیـا

ونیسي. له همدې پرېکړې سره سم د مقالو ارزونې کمیسیون جوړ او د مقالو عنوانونه غوره شول. د مقالو تر لیکلو او سمونو وروسته د ۱۴۰۱هـ. ش کال د کب ۱۵مه د سیمینار د جوړېدو نېټه وټاکل شوه، چې له نېکه‌مرغه (د افغانستان د مهاجرت ادبیات/ ادبیات مهاجرت افغانستان) په نوم سیمینار په همدې نېټه ترسره شو.

سیمینار د افغانستان د علومو اکاډمي د لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود په پرانیستې وینا سره پیل شو، بیا د ریاست‌الوزراء د محترم مقام او څو اړوندو وزارتونو پیغامونه ولوستل شول او ویناوې وشوې، ورپسې د سیمینار علمي برخه پیل شوه چې پوهانو او څېړونکو په کې خپلې علمي- څېړنیزې مقالې وړاندې کړې او په پای کې د ګډونوالو له خوا د موضوع اړوند پرېکړه‌لیک چې د څېړنپوه محمد نبي صلاحي له خوا ولوستل شو، صادر شو. سیمینار د کابل پوهنتون د علمي مرستیال پوهاند محمد شفیع شریفي له خوا مثبت وارزول شو، د دې ترڅنګ چې هغه یې وستایه، پر دغه ډول موضوعاتو سیمینارونه جوړول یې اړین وبلل.

د سیمینار د علمي غونډې پلاوی په دې ترتیب و: شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود د معزز مشر په توګه، د بشري علومو معاون څېړنپوه دکتور محمد علم اسحق‌زی د غونډې د رئیس په توګه، د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز رئیس اکاډمیسین څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي د غونډې د مرستیال په توګه او د دري ژبې او ادبیاتو انستیټیوت د فولکلور څانګې آمر څېړنوال محمد متین مؤنس د کمیسیون د منشي توګه.

د سیمینار پرېکړه‌لیک د یوې پرېکړې له مخې په سیمینار کې لوستل شوې مقالې، ویناوې او پیغامونه راټول او دا دی په دې چاپي ټولګه کې ستاسو تر لاسونو در رسېږي. دا په هېواد کې د مهاجرت ادبیاتو په اړه لومړنی اثر (د علمي- تحقیقي مقالو ټولګه) ده چې هم په کې د دغه ډول ادبیاتو پر مفهوم او بېلا بېلو ابعادو د څېړونکو له خوا ګټور او نوي تحقیقات وړاندې شوي او هم په کې په پراخه کچه زموږ د هېواد د مهاجرت ادبیات په ځانګړي ډول څېړل شوي دي.

په دې ټولګه کې لومړی د سیمینار اړوند پیغامونه او ویناوې، بیا په پښتو او دري ژبو مقالې او په اخره کې د سیمینار پرېکړه‌لیک راغلی دی. دا مجموعه به زموږ د هېواد د

مهاجرت ادبیاتو په اړه د رسمي بحثونو پیلامه وي، په دې اړه لا نورو څېړنو، علمي بحثونو او مناقشو ته اړتیا ده، په دې برخه کې دې د موضوع په تړاو نور اختصاصي سیمینارونه جوړ شي، په علومو اکاډمۍ کې دې نورې علمي- څېړنیزې پروژې او په پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دکتورا په کچه تیزسونو او ډیزرټېشنونو طرحه او وکښل شي، ترڅو موجوده تشه پرې ډکه شي.

که پورتني موضوعات تعقیب او پراخ شي، نو ښایي زموږ د هېواد د مهاجرت یا جهادي ادبیاتو برخه به که د الله تعالی رضا وه، یو څه سپړل شوې وي، په راتلونکو کې به لا ډېرو تحقیقاتو ته لاره هواره شوې وي، هم به اوسنی او راتلونکی نسل له دې ډول ادبیاتو سره آشنا شوی او زموږ د فرهنګ او ادب برخه به د دې ډول ادبیاتو په څېړنې سره د بشپړېدو خواته روانه شوې وي. په همدې هیله!

نوره خبره د استاد سعد الدین شپون د کډوالۍ په اړه د لیکل شوي شعر په دې بیت پای ته رسوم:

خدای خبر شه د هغې مرغۍ له حاله
چې صـــــیاد یې دړې وړې کړله ځاله
په درنښت

څېړنپوه محمد آصف احمدزی
د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټیوټ آمر
د ۱۴۰۲هـ.ش کال د جدي ۱٦مه

# پيغامونه او ويناوې

# د افغانستان د کډوال ادبیاتو په مناسبت د اسلامي امارت د محترم رئیس‌الوزراء پیغام

# ۱۴۰۱ د سلواغې ۲۴

بسم الله الرحمن الرحیم

«وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللّهِ يَجِدْ فِي الأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلى اللّهِ وَكَانَ اللّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا». سورة النساء: ۱۰۰ آیت.

د تاریخ په اوږدو کې چې هر اشغالگر زموږ پر گران هېواد یرغل کړی، نو د دیني وجیبې او حب‌الوطن په اساس زموږ مسلمان او مجاهد ملت یې په کلکه پر وړاندې ودرېدلی. د خپلې مېړانې، مجاهدې او مبارزې پر مټ یې اشغالگر مات کړي، شړلي او هېواد یې ورڅخه ازاد کړی دی.

بل لور ته د اشغال او جگړو پر مهال زموږ میلیونونه هېوادوال د دښمن له شر او زیان څخه د خوندیتوب په خاطر له خپلو کورنیو سره نورو هېوادونو ته مهاجر شوي دي. د دوی په منځ کې لیکوالان، ادیبان، پوهان او څېړونکي هم وو چې د هجرت په دیار کې یې خپلو کورنیو ته د حلالې نفقې پیدا کولو ترڅنگ د خپلې ژبې، ادب او کلتور د غنامندۍ لپاره هم لیکنې، څېړنې او تألیفات کړي او ادبیات یې خلق کړي چې د مهاجرت یا کډوالۍ ادبیات یې هم بولي.

د مهاجرت ادبیاتو منځپانگه د حب‌الوطن، سپېڅلي جهاد، حریت او آزادۍ پر روحیه سنباله ده. د دیني ارشاداتو ترڅنگ دغو ادبیاتو هم تل زموږ زړورو مجاهدینو او غازیانو ته د اسلام مقدس دین او هېواد د دفاع انگېزه ورکړې. خصوصاً وطني او حماسي ترانو او اشعارو د دوی پاک احساسات راپارولي او پر دښمن یې مرگونو گوزارونو ته هڅولي دي.

د مهاجرت ادبيات چې د ګران وطن له غېږې ليرې رامنځ ته شوي، نو طبعاً زموږ د هېوادوالو د کډوالۍ ژوند، حالات، ستونزې، محروميتونه، تراژيدۍ او ناخوالې هم په کې منعکس شوې دي. همدارنګه دغه ادبيات د کوربه هېوادونو ليکوالان او اديبان له افغاني ادب او کلتور سره بلدوي او افغان لوستونکي د نورو هېوادونو د ليکوالو او اديبانو له ګټورو تجربو څخه خبروي. د مهاجرت ادبيات موږ ته دا هم را زده کوي چې د هر افغان ژوند، عزت او حيثيت په خپل هېواد کې خوندي دی.

د علومو اکاډمۍ له مسؤولينو او د دغه څېړنيز او علمي سيمينار جوړوونکو ته دې خدای تعالی ډېر اجرونه ورکړي چې د دغې مهمې موضوع په مناسبت يې دغه غونډه رابللې. زما يقين دی چې محترم څېړونکي، اديبان او ويناوال به د مهاجرت ادبياتو په اړه هر اړخيزې، مفصلې او ارزښتناکې خبرې وکړي.

و من الله التوفيق

الحاج ملا محمد حسن اخند

د افغانستان اسلامي امارت رئيس‌الوزراء

## د «مهاجرت ادبیات» علمي - څېړنیز سیمینار ته
## د علومو اکاډمۍ د لوی رئیس شیخ الحدیث فرید الدین محمود د وینا متن

نحمدهُ و نصلی علی رسوله الکریم، اما بعد: اعوذُ بالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم: «وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللّهِ يَجِدْ فِي الأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً» الآیة. و قال الرسول صلی الله علیه وسلم: «انما الاعمال بالنیات».

«د افغانستان د مهاجرت ادبیات» علمي– څېړنیز سیمینار ته راغلو درنو مېلمنو، د علومو اکاډمۍ عالمانو، پوهانو، لیکوالو او څېړونکو!

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

قدرمنو! په افغانستان کې د جهاد او مهاجرت دا اوسنۍ سلسله چې شاوخوا پنځوس- شپېته کاله پخوا له هغه وخت نه راشروع شوې چې د ظاهرشاه حکومت په ۱۳۴۳ هجري شمسي کال په نوي اساسي قانون کې د دیموکراسۍ په نوم سیاسي گوندونو جوړېدو ته اجازه ورکړه. د بهرنیانو په مرسته او ملاتړ دلته ځینې کمونیستي او الحادي گوندونه، لکه د خلق پرچم، شعله جاوید، ستم ملي او نورو په نومونو را پیدا شول چې په همدې نومونو یې اخبارونه هم نشرول، د اسلام د سپېڅلي دین او افغاني فرهنگ د مقدساتو په ضد په تبلیغاتو او په هېواد کې د بېدینۍ، الحاد او فساد په خپرولو شروع وکړه، نو په مقابل کې یې زمونږ دیني علماء د خپل شرعي او دیني مسؤولیت او اسلامي رسالت له مخې د دغو ملحدینو او مفسدینو او د وخت د حکومت په مقابل کې چې په پټه او ښکاره یې د هغوی مرسته او ملاتړ کاوه او په هېواد کې یې د الحاد او فساد خپرولو ته لارې چارې برابرولې، راپورته شول، مقابله او مجاهده یې پیل کړه چې بالاخره خبره په ۱۳۴۹ هجري شمسي- کال د علماوو لوی او عمومي پاڅون پورې ورسېده. دغه اسلامي حرکت او مبارزې هغه وخت نور هم ډېر زور واخیست چې کله د سردار داود د جمهوریت په وخت کې د هېواد زیاتره ملکي او

نظامي چارې د روس د غلامانو او ملحدو پلويانو په لاس ورغلې او د وخت حکومت له هماغه لومړيو ورځو څخه د علماوو، اسلامي حرکت او مبارزې د مشرانو په بنديانولو، وهلو ټکولو او شهيدانولو پيل وکړ، نو هماغه و چې د مسلمانو مبارزينو ځينو مشرانو د حکومت له زورزياتي څخه د ځان ژغورلو او په هېواد کې د الحاد او فساد د خپرېدو د مخنيوي، مقابلې او اسلامي مبارزې ته د ځان چمتو کولو لپاره په لومړي قدم کې لرې پرتو غرنيو سيمو ته پناه يوړه او له هغه ځايه يې پاکستان ته هجرت وکړ او له هغه ځايه يې د جهاد او اسلامي مبارزې لپاره علمي او عملي هلې ځلې پيل کړې.

د هجرت او جهاد دا سلسله هغه وخت نوره هم چټکه شوه چې په ۱۳۵۷هـ. ش کال د ثور په اوومه په افغانستان کې د روسانو په مستقيمه ننګه او ملاتړ د هغوی د غلامانو بېدينه او ملحد رژيم رامنځ ته شو او په خاص ډول د روسانو د مستقيم يرغل، اشغال او لږ و ډېر يوه نيمه لسيزه حضور سره چې دوی او ملحدو غلامانو (د خلق – پرچم ډلې) د افغانستان د مسلمان ولس د ځپلو، وهلو ټکولو، بنديانولو، ډلهييزو وژلو او په شهادت رسولو لپاره د زر او زور له هرې وسلې او وسيلې څخه کار واخيست، نو دغسې له هېواد څخه د مهاجرتونو لړۍ ورځ تر بلې غځېده او پراخېده او بلاخره داسې حد ته ورسېده، چې يواځې په پاکستان کې د افغان مهاجرينو شمېر له پنځو ميليونو واوښت. خو څومره چې دغه د مهاجرتونو سلسله پراخه او چټکه شوه، هومره ورسره د جهاد او اسلامي مبارزې ليکې او صفونه ورځ تر بلې پياوړي شوي دي، لومړی د شورويانو او بيا د امريکايانو د استعمار شرمېدلې ماتې او د هغو د لاسپوڅو رژيمونو رانسکورېدل او له هېواد څخه د اشغال خاتمه، د الحاد، شر او فساد د ټغر ټولېدل او بالاخره د اسلامي امارت حاکميت په حقيقت کې دا ټول د همدې جهاد، مهاجرت او د مؤمنو افغانانو د مالي او ځاني قربانيو له برکته وو او دي.

نن چې موږ دلته د علومو اکاډمۍ د مهاجرت ادبياتو سيمينار جوړ کړی، نو د جهاد او مهاجرت په ادبياتو به هم لنډه رڼا واچوم:

قدرمنو! موږ او تاسې وليدل د جهاد او هجرتونو په دې ټوله دوره او موده کې زموږ د هېواد خلک هم په تدريج سره د فکري او عقيدتي دريځ له مخې په درېوو برخو جلا

شول؛ پر یوه خوا هغوی وو چې د بهرنیو اشغالگرو پلویان او لاسپوڅي وو ، د خپلو دغو بادارانو په مستقیمه مرسته او ملاتړ یې د غلامانو قدرت واگې ترلاسه کړې او د هغوی په قومانده په هېواد کې د الحاد، بې دینۍ او هر ډول اخلاقي فساد خپرولو او د افغان مسلمان ولس ځپلو ته تیار وو او پر دا بله خوا هغوی وو چې د خپلې سپېڅلي دیني عقیدې او له هېواد څخه د دفاع په خاطر یې د اشغالگرو او د هغوی د ملحدو او مفسدو پلویانو په وړاندې جهاد پیل کړی وو او یا یې مهاجرت کړی او یوه بله منځگړې ډله هم وه چې د ایمان د کمزورۍ او ځینو اړتیاوو له امله د دواړو خواوو ترمنځ د تذبذب په دریځ او حالت کې د ژوند شپې ورځې تېرولې.

دغسې په دغه وېش کې ادیبان (لیکوالان او شاعران) هم په تدریج سره هر یو په خپل صف کې ودرېدل. هغوی چې د پردیو اشغالگرو اجیران او نوکران وو، په هېواد او خلکوو کې یې د الحاد، بې‌دینۍ، د اشغالگرو او پردیو د غلامۍ، شر، فساد، وطن پلورنې، ضمیر پلورنې، هر ډول عیاشۍ او فحاشۍ مفکورې خپرولې، نو شعر او ادبیات یې هم له یوې مخې له دغسې پوچو افکارو او ذهنیت نه ډک دي. خو پر دا بله خوا چې د افغانستان د مؤمن او مجاهد ملت اصیل بچي او رښتیني استازي د خپل اسلامي پاڅون پر خوا ولاړ وو، د خپل اتل، په اسلام او ازادۍ مَین ملت، ویاړلې کارنامې د جهاد او هجرت په ډگر او سنگر کې د خپل مجاهد ولس دردونه، هیلې او ارمانونه، د اشغالگرو او د هغو د ملحدو مزدورانو جنایتونه، د ظلم او زور زیاتي هر ډول کړنې، حیلې او نیرنگونه د شعر او ادب په ژبه بیانول او له همدې لارې یې خلک خپلو دیني، ایماني، اسلامي او ملي اخلاقي وجایبو او مسؤولیتونو ته متوجه کول. نو ځکه یې شعر او ادب هم له همدې ډول ارزښتناکې معنا او محتوا څخه برخمن دی. دغه ډول ادبیاتو چې د جهاد او مهاجرت په دوران کې رامنځ ته شوي، موږ یې د جهاد او مهاجرت ادبیات بولو چې زموږ د مسلمان او مجاهد ملت د جهاد په تاریخ کې ځانگړی ځای او ارزښت لري.

همدغه لوړ ارزښت او اهمیت ته په کتنه او پاملرنه د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو او پښتو څېړنو بین‌المللي مرکزونو په گډه د افغانستان د اسلامي امارت د فرهنگپالې

کړنلارې او تګلارې په رڼا کې «د افغانستان د مهاجرت ادبیات» علمي- څېړنیز سیمینار جوړ کړی او دا دی تاسو مو ورته رابللي یاست.

زما باور دا دی چې دې علمي – څېړنیز سیمینار ته د پوهانو او څېړونکو لیکلې مقالې او ویناوې به د مهاجرت د ادبیاتو د هر اړخیزې پېژندنې او څېړنې ډېرې خواوې روښانه او د سیمینار د مقالو د مجموعې چاپ او خپراوی به څېړونکو، زده‌کوونکو او د مطالعې عامو مینه‌والو ته ګټور معلومات په لاس ورکړي.

په اخر کې زه د دې سیمینار د تدویر کمیسیون، غړیو، د مقالو لیکوالو د علمي او عملي هلو ځلو چې د دې علمي – څېړنیزې غونډې د تدویر او بریالۍ ترسره کېدو لپاره مو کړي، ستاینه او مننه کوم، تاسو ټولو ته د الله تعالی له درباره د ژوند په ټولو نېکو چارو کې د بریالیتوبونو دعا کوم.

و السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

شیخ الحدیث فریدالدین محمود

د علومو اکاډمۍ مشر

## د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا «د افغانستان د مهاجرت ادبیات» تر عنوان لاندې د علمي او څېړنیز سیمینار د جوړېدو په مناسبت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وزیر پیغام

تر ټولو لومړی باید د هېواد د علمي او څېړنیز مرکز (د افغانستان د علومو اکاډمۍ) څخه مننه وکړم چې د افغانستان د مهاجرت د ادبیاتو په اړه یې علمي او څېړنیز سیمینار جوړ کړی دی.

افغانستان د نړۍ په کچه یو له هغو هېوادونو څخه دی چې تر ټولو زیات وګړي یې د تېرو شرقي او غربي یرغلونو، جګړو او بېعدالتیو له امله مهاجر شوي دي.

د افغانستان خلک د یوه لرغوني تاریخ، کلتور او فرهنګ درلودونکي دي او بې شمېره علماوو، پوهانو او ادیبانو په دغه خاوره کې نړۍ ته سترګې پرانیستې چې اوس هم د هغوی له علمي او ادبي پانګو څخه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې استفاده کېږي.

مهاجرت له ادبیاتو سره مضبوط تړاو لري، ځکه چې مهاجرت له ځان سره دردونه، غمونه او تکلیفونه لري او ادبیات هم زیات له همدغو احساساتو سرچینه اخلي.

همدغه د مهاجرت درد و چې له امله یې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مکې معظمې ته مخ کړ او ویې ویل: «قسم په خدای! که ستا اوسېدونکو په زوره نه وای وېستلی، هیڅکله به له تا څخه نه وم وتلی».

د حضرت بلال -رضي الله عنه- شعرونه مشهور دي چې د مریضتیا په حالت کې یې مکې معظمې ته د بیا ورتللو ارزو کوله:

ألا لیت شعري هل ابیتن لیلة
بواد و حولي اذخر و جلیل

و هل اردنّ يوما مياه مجنة
و هل يبدونّ لي شمة و طفيل

څرنگه چې د هيڅ ملت ژوند له ادبياتو نه جلا کېږي، افغانان هم د هجرت سختيو او دردونو له ادبياتو څخه نه دي لرې کړي او په سلگونو پوهانو او اديبانو د هجرت ژوند په خپلو شعرونو، نثرونو او په زړه‌پورو کيسو کې رانغاړلی او لکه څنگه چې افغانستان يو جهادپاله او مېړنپاله هېواد دی، نو اکثر شعرونه او نثرونه يې هم د جهاد، مقاومت، مجاهد او د هغه د مېړانې په ستايلو سينگار شوي دي.

په پای کې يو ځل بيا د علومو اکاډمۍ له دغه نېک اقدام مننه کوم او ترې غواړم چې په راتلونکې کې دې د تېرو دواړو جهادونو سربښندنې او د افغانستان د نيمې پېړۍ د معضلې اصلې مخ د تاريخ په شکل راتلونکو نسلونو ته چمتو او وړاندې کړي او همداراز د مهاجرت په دوران کې ليکل شوي ادبي آثار، شعرونه او نثرونه چې اوس خواره واره دي، سره راټول کړي ترڅو د ښې استفادې وړ وگرځي.

په درنښت

الحاج خليل الرحمن حقاني
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير

# د افغانستان د کډوالۍ ادبياتو علمي او څېړنيز سيمينار ته د اطلاعاتو او فرهنگ د سرپرست وزير پيغام

الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين و الصلاة والسلام على خير خلقه محمد و على آله و اصحابه اجمعين. اما بعد، فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ».

د افغانستان د کډوالۍ ادبيات د څېړنيز او علمي سيمينار درنو گډونوالو!

السلام عليکم و رحمة الله وبرکاته

خبر شوم چې علومو اکاډمۍ د افغانستان د کډوالۍ ادبياتو تر عنوان لاندې علمي او څېړنيز سيمينار داير کړی، زړه مې و چې په دې اړين سيمينار کې ستاسو ملگرتيا له نږدې وکړم، خو د وخت کمبود او د کارونو ډېروالي اجازه رانه کړه؛ که درغلی نه يم، نو ذهناً له تاسو سره يم.

زموږ گران هېواد افغانستان د تاريخ په اوږدو کې ډېر ځله د استعماري قوتونو د تاړاکونو ميدان پاتې شوی دی.

که په لرغوني تاريخ کې سکندر مقدوني او چنگېز په دې خاوره لښکرکشۍ کړې، نو په معاصر تاريخ کې انگريزي امپراتورۍ د وخت ستر او لويه امپراتوري وه چې په دې وطن يې تاړاک راوړی و. په دې نږدې څو لسيزو کې سرې دهرې امپراتورۍ هم زموږ جهادپاله ملت او شهيد پروره خاوره تر خپلو کثيفو قدمونو لاندې کړې وه، همدارنگه په ۲۰۰۱ عيسوي کال کې د وخت فرعوني امپراتورۍ چې مشري يې د امريکا په لاسونو کې وه، هم د تېرو اشغالگرو په قدم رهي او زموږ په سپېڅلې خاوره يې د ټولو نړيوالو قوانينو په خلاف يرغل وکړ چې له کبله يې ډېر افغانان کډوالۍ ته اړ او له خپلو مېنو جلا، نورو هېوادونو ته کډوال شول.

په کډوالو کې طبعاً شاعران، ليکوال او اديبان هم شامل ول چې له هېواده بهره

نورو ملکونو ته مهاجر شوي او له خپل ټاټوبي لرې په نورو وطنونو کې يې ادبيات پنځولي دي. دا يو منل شوی حقيقت دی چې په ادبياتو د ټولنې، اقتصادي وضعې او سياسي حالاتو اغېز مخامخا وي؛ نو ويلی شم کوم ادبيات چې د کډوالۍ په وخت کې له هېواده لرې تخليق شوي، حتمي به يې سوژه دردوونکې او له سوزه ډکه وي، که څه هم په داسې ادبياتو کې د کوربه هېواد د فرهنګي جريانونو اغېز هم يوه حتمي خبره ده، ځکه شاعر، ليکوال او اديب انسان دی او انسان له ټولنې او خپل ماحول څخه اغېزمن وي او ادب له خپل پنځ کوونکي څخه.

کډوال شويو ليکوالو، شاعرانو او اديبانو له خپل هېواده لرې په پرديو وطنونو کې له نويو مفهومونو سره نوي ادبيات وپنځول چې له خپل وطن او وګړو څخه د لرېوالي دردوونکې سوژې يې درلودې. دوی د ادبياتو او خپرونو ځانګړي مرکزونه جوړ کړل او ګڼ شمېر کتابونه، مجلې او رسالې يې خپرې کړې دي.

په دې ډول علمي ناستو کې سربېره پر دې چې د ليکوالو، اديبانو او فرهنګپالو له کار او زيار څخه يادونه، ستاينه او مننه کېږي، زموږ ځوان نسل او د هېواد د ادب او فرهنګ مينه‌وال له خپلې وياړلې معنوي پانګې او شتمنيو سره لا ډېره اشنايي پيدا کوي او د هېواد په روښانه راتلونکې يې باور ور زياتولی شي.

په پای کې له ټولو درنو ليکوالو، استادانو، ژبپوهانو، شاعرانو او د هېواد د فرهنګ او ادبياتو له مينه‌والو څخه مننه کوم چې دې علمي ناستې ته راغلي، په ځانګړي ډول د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشرتابه او غړو څخه منندوی يم چې هر وخت يې د هېواد ارزښتونو د ساتنې او پالنې په موخه دا ډول علمي غونډې جوړې کړې دي.

د اسلامي نظام د پايښت، آزاد او آباد افغانستان په هيله

ملا خيرالله خيرخواه

د اطلاعاتو او فرهنګ سرپرست وزير

## د لوړو زده کړو وزارت مرستیال دکتور لطف الله خیرخواه وینا[1]

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

الحمدلله و الصلاة و السلام علی رسول الله و علی آله و صحبه و من والاه و بعد.

د غونډې قدرمن رئیس صاحب، درنو استادانو او حاضرینو، ټولو ته په درنښت او احترام او د ټولو په اجازه.

د سیمینار موضوع ډېره جالبه او ډېره په زړه پوري وه، ما نن سفر درلود، خو تقریباً یوه میاشت مخکې راته وویل شول چې په علومو اکاډمي کې پر دغه موضوع سیمینار دایریږي، زه ورته خدای شته په تمه وم، ځکه دا موضوع ډېره خوږه راته لګېده او د هجرت د چاپېریال خواږه او ترخه دواړه چې موږ لیدلي دي، ډېره راته جالبه وه او کله چې د علومو اکاډمي له خوا راته دعوتنامه راغله، نو د همدې سیمینار په خاطر مې خپل پلان کړی سفر وځنډاوه ترڅو زه دلته د خپلې خوښې موضوعات واورم.

د علومو اکاډمۍ د دې سیمینار د دایرولو ډېره قدرداني کوو، الله تعالی دې دوی ته په اینده کې هم د دغسې موضوعاتو په اړه د بحث کولو توفیق ورکړي چې نوښتونه په کې وي.

قدرمنو حاضرینو! د مهاجرت د ادبیاتو په ارتباط زه دوه ډېرې مختصرې خبرې کول غواړم؛ یوه خبره دا ده چې د مهاجرت د اصطلاح په ارتباط زموږ او تاسو لومړي وینااوال خبره وکړه چې د مهاجرت د ادبیاتو ریښه په کوم ځای کې ده. موږ او تاسو چې د مهاجرت کلمه استعمالوو، دا یو فکري بُعد هم لري، یواځې هغه لغوي بعد کې دا نه کاروو، بیا چې هاغه تقسیماتو کې استاد وویل چې زموږ د مهاجرت په ادبیاتو کې ځیني چې دي، هغه مقاومتي او جهادي ادبیات دي او ځیني د جلاوطنۍ ادبیات دي. هغوی چې دا د مهاجرت کلمه استعمالوي، هماغه په جلاوطنۍ او کډوالۍ یې کاروي، خو موږ او تاسو چې دا د مهاجرت کلمه او اصطلاح کاروو، شرعي او فکري بُعد هم لري،

[1] دغه وینا د سیمینار له ثبت شوي ویډیويي کسېټ څخه استخراج شوه. (استخراجوونکی: محمد آصف احمدزی)

زما هیله دا ده چې په راروانو مقالو کې یا که نـور سیمینارونه وي، د مهـاجرت د ادبیـاتو په فکري ابعادو هم یو څه ډېر ترکیز وشي، ځکه هغه موږ ته ډېر څه راکولی شي.

ماته چې خپله بداهتاً په نظر راځي، د روسانو له ماتې نه وروسته پـه افغانسـتان کـې او په بهر کې چې د ادبیاتو سرلاري دي، ټول هغه خلک دي چې په هجرت کـې هغـوی زده کړې وکړې او د مهاجرت د ادبیاتو سرلاري وو او اوس دلته الحمد لله زموږ او تاسو د ملي ژبو په عموم کې سرلاري یادیږي. د دې معنا هم دا ده چې د مهاجرت ادبیات زمـوږ او تاسو په ادبیاتو کې یو ډېر ژور تأثیر لري او په قـرآن کـریم کـې چـې کـوم آیـت راغلـی چې: (وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللّـهِ يَجِـدْ فِي الأَرْضِ مُـرَاغَمًا كَثِـيرًا وَسَـعَةً)، نـو دا د «سـعة» خبره چې زموږ او تاسو په خپلو ادبیاتو کې ګورو، د همدې مهاجرت ادبیاتو له وجهې نـه زموږ او تاسو ادبیاتو څومره پراختیـا مونـدلې ده. ځینـې اصـناف زمـوږ او تاسـو ژبـې تـه راغلل، په فکري او رواني لحـاظ بانـدې ډېـر تـأثیرات وو چـې زمـوږ او تاسـو پـه ادبیـانو، لیکوالو او شاعرانو باندې شوي دي، دا مهمه خبره ده، په دې باید په هغه خپل بُعد کې خبره وشي.

دویمه موضوع چې له ما نه مخکې پرې محترمو ویناوالو بحث وکړ، هغه ژبنـی تـأثر و چې د مهاجرت په ادبیاتو کې دغه څه لیدل کېږي، خو ډېرې ښېلګې چـې اسـتاد وویـل هغه یې د نړیوالتوب د تأثیر وویلې او د فرهنګي یرغل د تـأثیر یـې وویلـې. د مهـاجرت د ادبیاتو تأثر په دغه شـکل نـه دی، هغـه ډېـر مثبـت تـأثر دی، زمـوږ او تاسـو د ادبیـاتو د پراختیا باعث کېږي، د ډېرو ښو مفاهیمو د راتګ باعث کېـږي، ډېـر داسـې څـه وو چـې زموږ له مهاجرت نه مخکې زموږ په ادبیاتو کې نه و، خو له مهـاجرت نـه وروسـته پـه ډېـر ښه شکل مطرح شول، پر مخ لاړل، اوس یې چې څوک مني نه یې مني، پـه هـر صـورت خو هر څوک ترې متأثره دي.

په دغو دوو ابعادو باید جلا بحث وشي چې زموږ ژبه د نړیوالتوب له تـأثیراتو سره څـه ډول مخ ده؟ مثبت تأثیرات یې څه دي او منفي تأثیرات یې څـه دي؟ پـه دې بایـد جـلا بحث وشي. دوهم له کوم فرهنګي یرغل سره چې په دې تېر وخت کې موږ مخامخ وو یـا اوس هم دا دی ورسره مخامخ یو، دا یو جلا بحث دی او په هغه خپل فکـري بُعـد نـه پـه

دې باید یو خاص دغسې سیمینار دایر شي او خبرې وربانديې وشي.

بیا هم ډېره مننه چې په دغسې خاصه موضوع باندې د محترمو استادانو له خوا بحث کېږي، امېد او هیله مو دا ده چې دغه د مهاجرت ادبیات د یوې خاصې دورې د خاص بحث په توګه بیا هم مطرح وي، بیا هم مطرح وي او زموږ د ادبیاتو لوستونکي او هغه کسان چې علاقه ورسره لري، هغوی ترېنه په ښه شکل استفاده وکړي.

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

## د ژبو او ادبیاتو مرکز د رئیس څېړنوال سید نظیم سیدي د وینا متن

د ۱۳۵۲ لمریز کال د سرطان پر ۲٦مه نېټه یو ډېر غږ د راډیـو افغانسـتان د څپـو لـه لارې انګازې جوړې کړې او د لومړي ځـل لپـاره یـې د شـاهي نظـام پـر ځـای جمهـوري نظام اعلان او ځان یې د افغانستان لومړی ولسمشر ونوماوه چې دغه آواز خپل همغـږي او ناهمغږي دواړه لرل، خو داود خان خپل کودتـا بریـالۍ او خپـل ملګـري یـې ربښـتیني هېوادپال یاد کړل. موده لا تېره نه وه چې د کودتا او ګونـدي ګټـو پـر اسـاس یـې خپلـه کابینه اعلان کړه چې له بدهمرغه ډېر عادي او سیاسي ناروغ انسانان یې پـر لـوړو دنـدو وګومارل چې له همدغه ځایه پردي‌پال او د بل لاسـپوڅو د افغـان وطـن پـه څـرمن کـې ځاله جوړه کړه او د نوموړي ټول ماسترپلانونه یې له ناکامۍ سره مخامخول. ده غوښـتل چې فرهنګ وده وکړي، د پوهنې نصاب لـه شـته واقعیتونـو سره برابـر کانـدي، ډېـر لـوړ پوهنیز- څېړنیز سیمینارونه دایر کړي، اقتصادي اصلاحات راولي، په سـیاسي ډګـر کـې له غرب او عربو سره اړیکې پراخې کړي او هېواد د یوه هېواد له انحصاره راووځي، خو په لستوڼي کې یې د «کا جي بي» لاسپوڅو نه یواځې نظام ونګاوه، بلکې اسلام‌پالې ډلـې یې داسـې وځپلـې چـې آن زندانونـه تـرې ډک شـول او همدلتـه ول چـې د کـډوالۍ یـا مهاجرت لړۍ پیل شوه. له پاکسـتان او ایـران واخلـه بیـا تـر عـربي او اروپـایي هېوادونـو پورې یې ځمکې تر پښو تېرې کړې، خو داخـلي اخ و ډب لا زور واخیسـت او ترڅـو چـې محمد داود خان پر ځان پوهېده، له کورنۍ سره یې له تېغه تېـر کـړی و او پـه دې توګـه افغانستان په رسمي توګه د سره ښامار په خوله کې داسې پرېـوت چـې لـه املـه یـې پـه زرګونو انسانان بې‌کوره، تر خاورو لاندې، کونډې، یتیمان، کډوال او د بېوزلۍ په داسـې ګرداب کې وغورځېدل چې راوبښتل یې د برموډا مثلث شیطاني برزخ شو.

زموږ ننـی سیمینار د همدغې کډوالۍ او بې کورۍ په اړه ځـانګړی شـوی دی چـې تر دې وړاندې حالات او کډوالۍ یې په دې تنګه لمن کې نه ځاییږي، خـو تمـه ده چـې دغه سیمینار به تر دې وړاندې او وروسته بې‌کوریو او کډوالیو تـه هـم د بـې پـرې علمـي

ښېړنو زمینه مساعده کاندي او موږ به د ادبیاتو په غنا کې مغتنم گامونه پورته کړي وي. په دې کې شک نشته چې زموږ موخن سیمینار به د مهاجرت د ادبیاتو ټول اړخونه لکه څنگه چې لازمه ده، راونه سپړلای شي، خو لږ تر لږه د ادبیاتو هغه اړخونه به رابرسېره کړي چې له امله یې موږ نن د نسبتاً ښو ادبیاتو لرونکي یو، ځکه د سنگروالو او قلموالو همدغه کډوالۍ او مهاجرتونه ول چې هم یې خپل ادبیات د حماسي‌والي او پوخ‌والي برید ته ورسول او هم یې په کې د مېشتو هېوادونو نوي پنځېدلي ادبیات چې له فولکلور واخله تر ادبي ژانرونو پورې په کې شامل دي، خپلې ژبې ته په داسې هنر او خوند سره راوستل چې نن یې هم له لوستلو خوند اخلو او ویاړ پرې کوو.

د پوهانو په اند، بویه دغو ادبیاتو ته یوازې د ادبیاتو په سترگه نه؛ بلکې د جهاد، سنگر، مورچل، هېوادنۍ مینې، خپلواکۍ اخیستلو، د سره ښامار د ماتې، د هېواد د پایښت، د فرهنگ د غنا او نورې نړۍ ته د افغانستان د فرهنگ، ادبیاتو او تمدن په سمه توگه څرگندولو په نظر وکتل شي؛ ځکه د همدغو لیکوالو حماسي او انقلابي شعرونه، مقالې، ویناوې او کیسې وې چې د سپېڅلو افغان انسانانو وینې یې په جوش او جذبه راوستې او نه یوازې سور ښامار، بلکې شین ښامار یې هم تس‌نس کړ چې نړۍ هم ورته حقه حیرانه ده، نو ځکه اړینه برېښي چې د داسې مبارزینو قلموالو یادونه وشي، کار یې وستایل شي او له گُمنامۍ نه راووځي چې په گانده کې د دې وطن بچیان خپل اتلان او خاینان دواړه په یوې تلې ونه تلي.

د افغانستان د علومو اکاډمي دا خپله دنده گڼي چې دا او دې ته ورته ارزښتونو ته په کتلو سره د خپل هېواد دغه ډول ارزښتونه رابرسېره او د علمي- ښېړنیزو سیمینارونو له لارې یې خپل ولس ته وړاندې کړي چې له ښه‌مرغه په دې موضوع کې یې هم د یوې ژورې او هر اړخیزې رابرسېرونې او سپړنې هوډ کړی چې نن یې موږ او تاسو د تر سره کولو شاهدان یو. په همدې پار زه د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو پښتو ښېړنو نړیوالو مرکزونو په استازۍ لومړی د افغانستان د علومو اکاډمۍ له لوی رئیس ښاغلي شیخ الحدیث مولوي فرید الدین محمود، د علمي شورا له استازو، د بشري علومو محترم معاون ښېړنپوه دکتور محمد علم اسحق زي، د ژبو او ادبیاتو مرکز او

د پښتو څېړنو نړیوال مرکز لـه درنـو اسـتادانو، همکـارانو او د اطلاعـاتو او عامـه اړیکـو ریاست له مشرتابه او همکارانو، له ریاست دفتر، امنیتي مسؤولینو، تخنیکـي همکـارانو، د رسنیو له استازو او په ټوله کې له ټولو علمي او اداري همکـارانو د زړه لـه کـومې مننـه کوم چې په خپلو نه ستړې کېدونکو هلـو ځلـو او منـدو تـرړو سره یـې د دغـه سـیمینار د دایرېدلو زمینه مساعده کړه. همداسې له تاسو ښاغلو درنو ګډونوالو هم د زړه لـه کـومې مننه کوم چې تشریف مو راوړ او له موږ سره د دغه سیمینار برخـه‌وال یاسـت. هیلـه مـن یم چې دغه سیمینار د مهاجرت د ادبیاتو ټول هغه اړخونه راوسپړي چې تر دې دمه پټ او مـبهم پـاتې دي او پـه ګانـده کـې هـم د دغـه ډول مهمـو او ارزښـتمنو سـیمینارونو شاهدان واوسو.

مینه او پېرزوینه

# علمي- څېړنيزې مقالې